## گزارش اوضاع سیاسی، امنیتی و اقتصادی

# افغانستان

## در سال ۱۴۰۴هـ.ش



گزارش اوضاع سیاسی، امنیتی و اقتصادی

# افغانستان در سال 1404هـ.ش

بسم الله الرحمن الرحيم

# فهرست عناوین

**عناوین** **صفحه**


مقدمه ........ 1

لومړی برخه: سیاسي وضعیت ........ 3

لومړی- داخلي سیاسي وضعیت ........ 3

لاسته راوړنې ........ 3

ننګونې ........ 7

دویم- د نړۍ او سیمې له هېوادونو سره د اسلامي امارت تعامل او ښکېلتیا ........ 9

د روسیې له لوري د اسلامي امارت په رسمیت پېژندل ........ 10

له پاکستان سره د اړیکو خرابېدل ........ 13

د هند سره د اړیکو نږدې کېدل ........ 17

د چین سره اړیکې لا هم ښې دي ........ 20

روابط با کشورهای آسیای مرکزی و ایران ........ 22

دویمه برخه: امنیتي وضعیت ........ 25

وضعیت امنیتی داخلی ........ 25

۱. فعالیت‌های ضد امنیتی گروه‌های مخالف ........ 25

۲. اقدامات امارت اسلام در راستای تأمین بهتر امنیت ........ 27

مدیریت امنیت مرزی و روابط امنیتی با کشورهای همسایه ........ 31

درېیمه برخه: اقتصادي وضعیت ........ 33

سرمایه‌گذاری در پروژه های زیربنایی / معادن و اشتغال ........ 33

انفلاسیون و نوسانات ارزی ........ 34

تجارت خارجی ........ 35

درآمدهای دولت ........................................................................................ 36

کاهش مراودات تجاری با کشورهای همسایه ........................................................................ 37

چشم انداز آینده ........................................................................................ 40

فرصت‌ها: پروژه‌های ترانزیتی و همکاری منطقه‌ای ........................................................ 40

تهدیدها: شکنندگی سیاسی و اقتصادی ........................................................................ 41

نتیجه گیری ........................................................................................ 43

پیشنهادات ........................................................................................ 45

## مقدمه

مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی به‌حیث یکی از نهادهای تحقیقی معتبر، همه‌ساله با هدف ارائه تصویری جامع، دقیق و تحلیلی از وضعیت افغانستان، اقدام به تهیه و نشر گزارش‌های سالانه می‌نماید. در این گزارش‌ها با تمرکز بر ابعاد مختلف سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی کشور، تلاش صورت می‌گیرد تا ضمن تبیین روندهای کلان، زمینه را برای درک عمیق‌تر تحولات داخلی و خارجی فراهم سازد. در همین چارچوب، گزارش سال ۱۴۰۴ هجری خورشیدی نیز با رویکردی تحلیلی و مبتنی بر داده‌های معتبر تهیه و تدوین گردیده است.

گزارش حاضر در دو بخش اساسی تنظیم شده است. در بخش نخست، وضعیت سیاسی-امنیتی افغانستان مورد بررسی قرار گرفته است؛ به‌گونه‌ای که این بخش ضمن تحلیل تحولات داخلی، به ارزیابی ساختار قدرت، میزان ثبات سیاسی، چالش‌های امنیتی و نحوه مدیریت آن‌ها پرداخته و در ادامه، تعاملات و روابط امارت اسلامی با جهان به خصوص کشورهای منطقه را نیز به‌صورت جداگانه تحلیل نموده است. این بخش تلاش دارد تا جایگاه افغانستان را در معادلات منطقه‌ای و

بین‌المللی تبیین کرده و فرصت‌ها و چالش‌های ناشی از این تعاملات را برجسته سازد.

بخش دوم این گزارش به بررسی وضعیت اقتصادی اختصاص یافته است. در این بخش، شاخص‌های کلان اقتصادی از جمله رشد اقتصادی، وضعیت تجارت خارجی، میزان عواید و مصارف دولت، تورم و نوسانات ارزی به‌صورت دقیق مورد تحلیل قرار گرفته‌اند. افزون بر این، چالش‌های ساختاری اقتصاد افغانستان، از جمله وابستگی به کمک‌های خارجی، ضعف زیرساخت‌ها و محدودیت‌های نظام مالی نیز مورد توجه قرار گرفته و در نهایت، چشم‌انداز آینده‌ی اقتصادی کشور با در نظر داشت روند جاری ترسیم گردیده است.

در پایان، پس از بررسی و ارزیابی همه‌جانبه هر دو بخش، مجموعه‌ی از پیشنهادات و راهکارهای عملی برای سال ۱۴۰۵ هـ.ش به امارت اسلامی ارائه گردیده است. هدف از این پیشنهادات، بهبود مدیریت سیاسی-امنیتی و تقویت بنیان‌های اقتصادی کشور می‌باشد، تا از این رهگذر، زمینه برای بهبود پایدار شرایط افغانستان فراهم شده و سال پیشرو در مقایسه با سال گذشته، با دستاوردهای ملموس‌تر و وضعیت مطلوب‌تر همراه باشد.

## لومړی برخه: سیاسي وضعیت

په ۱۴۰۴ هـ.ل. کال کې که د افغانستان سیاسي وضعیت له دوه اړخونو مطالعه کوو، یو یې داخلي اړخ دی او بل یې د نړۍ او سیمې هېوادونو سره د اړیکو بحث دی، چې دلته لومړی په داخلي وضعیت لنډ بحث کوو.

### لومړی- داخلي سیاسي وضعیت

کله چې د داخلي سیاست وضعیت څخه بحث کېږي، نو مسایل ټول حکومتي سیستم او نظام ته راجع کېږي. په دې معنی چې د حکومتدارۍ په کچه څومره پرمختګونه شوي او کومې ننګونې موجودې دي.

لاسته راوړنې

که په داخلي سیاست وضعیت خبره کوو، نو معلومېږي چې حکومتداري په بېلابېلو برخو کې ښه وه او د پام وړ لاسته راوړنې یې درلودې. د بېلګې په ډول: په ۱۴۰۴ هـ.ل. کال کې نږدې ۲.۸ میلیونه کډوال بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي دي، نو په یو کال کې د دومره

ډېرو کډوالو راستنېدل او د هغوی مدیریت د ښه حکومتولۍ ښودنه ده.
همدارنګه په دفاعي برخه کې د روزل شویو امنیتي ځواکونو شمېر ۱۸۱زرو او ۸۴ تنو ته رسېدلی او ۱۰۰زره او ۳۰۰ پولیس په امنیتي، جنايي، سرحدي، لوجیستیکي او نورو برخو کې روزل شوي دي. په تېره یوه کال کې د ۳۵زرو او ۲۲۸ تنو معتادینو درملنه شوې او په لویو ښارونو کې ۱۰زره او ٦٦۴ تنه سوالګر راټول شوي دي.[1]

همدارنګه افغانۍ د بهرنیو اسعارو پر وړاندې نه یوازې باثباته پاتې شوې بلکې د ځینو بهرنیو اسعارو پر وړاندې یې ارزښت لوړ شوی دی، په مختلفو سکټورونو کې لویې بنسټیزې پروژې پیل شوې، د صادراتو کچه د اسلامي امارت په راتګ سره دوه برابره زیاته شوې، سوداګرۍ پرمختګ کړی، د لویو، متوسطو او کوچنیو کانونو د استخراج او پروسس چارې روانې دي، د لومړنیو خوراکي توکو بیې ټیټې شوي، په کور دننه د خوراکي توکو په تولید کې د پام وړ زیاتوالی راغلی، د حکومتي تشکیلاتو د زیاتوالي سربېره په کانونو او عامه المنفعه پروژو کې سلګونو زرو کسانو ته کاري فرصتونه برابر شوي، د کورني ناخالص تولید کچه زیاته شوې، د ملي عوایدو په اندازه کې د پام وړ زیاتوالی راغلی، ملي بودیجه له کورنیو عوایدو تمویل شوې، د لویو لارو بیارغونې سربېره د ترانزیټ په برخه کې هم ګڼې آسانتیاوې رامنځته شوي دي.

اسلامي امارت د کانونو، برېښنا، کرنې، ترانسپورت، مخابراتو او ټېکنالوژۍ، صنعت، بانکوالۍ او د سوداګرۍ په سکټورونو کې کورنۍ

[1] په ۲۰۲۵ میلادي کال کې د اسلامي امارت لاسته راوړنې. کلید ګروپ. ۳۱ دسمبر ۲۰۲۵. قابل دسترس: https://tkg.af/pashto/2025/12/31/%D9%BE%D9%87-%DB%B2%DB%B0%DB%B2%DB%B5-%D9%85%DB%8C%D9%84%D8%A7%D8%AF%D9%8A-%DA%A9%D8%A7%D9%84-%DA%A9%DB%90-%D8%AF-%D8%A7%D8%B3%D9%84%D8%A7%D9%85%D9%8A-%D8%A7%D9%85%D8%A7%D8%B1%D8%AA-%D9%84%D8%A7%D8%B3/

او بهرنۍ پانګونې ته زمینه برابره کړې ده. اوس مهال لسګونه کورنیو او بهرنیو شرکتونو په مختلفو سکټورونو کې عملاً پانګونې کړې او لسګونو کورنیو او بهرنیو شرکتونو هم د پانګونې لپاره لېوالتیا ښودلې.

د تېر یو کال پر مهال د اسلامي امارت له لوري په لاندې سکټورونو کې اساسي کارونه ترسره او دې برخو کې د پانګونې لپاره فرصتونه رامنځته شوي دي:

**د کانونو سکټور:** اسلامي امارت د کانونو په سکټور کې پانګونه، په مسلکي ډول د کانونو استخراج او پروسس په خپلو لومړیتوبونو کې نیولي دي. له تېر یوه کال راهیسې د لسګونو بېلا بېلو کانونو د استخراج او پروسس چارې پیل شوې دي او د لسګونو نورو جیو فزیکي مطالعات بشپړ شوي او د عملي چارو پر پیل یې کار روان دی.

**د برېښنا سکټور:** افغانستان هغه هېواد دی چې د برېښنا تولید لپاره پرېمانه طبیعي سرچینې لري خو د اشغال او جګړو له امله یې پر کلیوالي سیمو سربېره ښارونه هم په بشپړ ډول برېښنا ته لاسرسی نلري، اسلامي امارت دغه سکټور په خپلو کاري لومړیتوبونو کې نیولی چې د کورنۍ پانګونې سربېره یې بهرنۍ پانګونې ته هم زمینه برابره کړې چې د تېر یو کال په جریان کې یې لسګونه مېګاواټه لمریزه برېښنا تولید کړې ده.

په دغه سکټور کې د عزیزي انرژۍ ګروپ شرکت سره د لس زره مېګاواټه برېښنا تولید قرارداد لاسلیک شوی دی، همدارنګه له لسګونو کورنیو او بهرنیو شرکتونو سره د برېښنا د تولید قراردادونه په مختلفو برخو کې لاسلیک شوي دي.[2]

[2] د افغانستان اسلامي امارت د ۲۰۲۵ م کال د پام وړ لاسته راوړنې. امارت اسلامی افغانستان.۱۰ جدی ۱۴۰۴. قابل دسترس:

**د کرنې سکټور:** زراعت د هېواد په اقتصادي ثبات کې رغنده رول لري او اسلامي امارت د تېر یو کال په جریان کې هڅه کړې چې د مؤثرو او د وخت ضرورت پر اساس جوړ شویو پلانونو په پلي کېدو سره د کرنې سکټور میکانیزه کړي، چې په پایله کې په ښه کیفیت او ډېر کمیت سره کرنیز توکي تولید، هېوادوالو ته د کار زمینه برابره، تر یوې اندازې کورنۍ اړتیاوې پوره او د صادراتو کچه ورسره لوړه شوې.

همداراز د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د تېر یو کال راهیسې د افغان متخصصینو په مرسته عملاً د هېواد د ملي پراختیا پر ستراتیژۍ کار روان کړی، چې په وسیله به یې وتوانېږو د افغانستان زراعت میکانیزه او هېواد به د صنعتي کېدو په لور سوق کړي.

همداراز د تېر یو کال په جریان کې په هېواد کې د کرنې په سکټور کې د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې له پاره خوندي چاپېریال برابر شوی او په دې برخه کې لا هم هڅې روانې دي، د اوبو مدیریت لپاره هم عملاً کار پیل شوی، چې ښه مثال یې د پاشدان او شا و عروس پروژو ګټې اخیستنې ته سپارل و.

**د ترانسپورټ سکټور:** د ترانسپورټ په سکټور کې هم عملاً د لویو لارو د بیارغونې کارونه پیل شوي لکه کابل - غزنې دوهم لین سړک، د سالنګونو پاتې برخه، واخان دهلېز، کابل - ننګرهار دوهم لین سړک، د کابل په ګډون د لومړۍ درجې ولایتونو د لسګونو سړکونو بیارغونه او د دوهمې درجې ځینو ولایتونو سړکونه او د ولایتونو له مرکزونو څخه لرې پرتو ولسوالیو ته د سړکونو غځول او د رېل پټلۍ له لارې د سیمې او

---

https://www.alemarah.af/news/%d8%af-%d8%a7%d9%81%d8%ba%d8%a7%d9%86%d8%b3%d8%aa%d8%a7%d9%86-%d8%a7%d8%b3%d9%84%d8%a7%d9%85%d9%8a-%d8%a7%d9%85%d8%a7%d8%b1%d8%aa-%d8%af-%db%b2%db%b0%db%b2%db%b5-%d9%85-%da%a9%d8%a7%d9%84-%d8%af/

ګاونډیو هېوادونو سره د هېواد نښلولو چارې هم په چټکۍ سره دوام لري.

**د صنعت سکټور:** اسلامي امارت په هېواد کې خصوصي پانګونه او خصوصي تشبثات هڅولي، ملاتړ یې کړی او خونديتوب یې تضمین کړی دی. افغانستان اوس مهال کرنیزو محصولاتو، درملو، خوراکي توکو، لاسي صنایعو او یو شمېر نورو برخو کې چې شمېر یې ۲۴ ته رسیږي تولیدات لري.

د افغانستان صنعت په سکټور کې د پانګونې لپاره زمینه برابره شوې او کورني او بهرني پانګوال کولای شي، په دغه ذکرو شویو برخو کې عملاً پانګونه وکړي، چې عبارت دي له: کیمیاوي صنایع، ساختماني توکي، د ماشین جوړولو او فلزاتو صنایع، د درمل جوړولو صنایع، د چاپ صنعت، ترکاڼي او کاغذ جوړولو صنایع، سپک صنایع، د خوراکي موادو صنایع او نور بېلابېل صنایعو څخه.

**سیمه‌ییز اتصال:** د سیمه‌ییز اتصال په برخه کې افغانستان د منځنۍ او سویلي آسیا ترمنځ د ترانزیټ او د انرژۍ لېږد لپاره تر ټولو پر نیږدې او امن لار باندې بدل شوی دی. اسلامي امارت د ټاپي، کاسا زر، ټوټاپ او ټاپ پروژو د تطبیق لپاره زمینه برابره کړې ده.

ننګونې

په ۱۴۰۴ هـ.ل کال کې په سیاسي حکومتي سیستم کې لومړنی ستر بدلون چې په ۱۴۰۴ هـ.ل. کال کې راغی هغه دا و چې امیرالمؤمنین یو فرمان صادر کړ او سرپرست حکومت یې له منځه یوړ او امر یې وکړ چې نور د سرپرست کلمه مه کاروئ. البته دا بدلون شکلي بریښي، ځکه

یوازې د سرپرست کلمه حذف شوه نور د نظام په ساختار کې کوم بدلون رانغی. د سرپرست حکومت مفهوم دا دی چې تر هغې چې د خلکو په خوښه یو رسمي حکومت راځي، نو د کارونو د موقت تنظیم لپاره لنډمهاله سرپرست حکومت رامنځته کېږي او کله چې رسمي حکومت رامنځته شي بیا سرپرست حکومت له منځه ځي، خو دلته کوم رسمي حکومت رامنځته نشو، نه هم ټاکنې وشوې او نه هم کومه لویه جرګه راوغوښتل شوه چې له لارې یې د حکومت مشران وټاکل شي، نو د سرپرستې ختمول یوازې د سرپرستی د کلمې حذفول دي او بس.

همدارنګه لا تراوسه هم د اسلامي امارت د سیاسي نظام بڼه معلومه نه ده او د نظام د بڼې او حکومتي سیستم نه مشخصوالی اسلامي امارت له دوه ستر ننګونو سره مخامخ کړی دی: لومړی، په داخل د هېواد کې ولس د بېګانګۍ احساس کوي ځکه تر څو چې د چارواکو او حکومت په ټاکنه کې ولس ونډه ونلري هغه حکومت ولس خپل حکومت نه ګڼي او دلته د ولس او حکومت ترمنځ واټن رامنځته کېږي. دویم، دا ډول حالات په نړیواله کچه هم اسلامي امارت ته ستونزې پیداکړي دي ځکه د نورو دولتونو له لوري د رسمیت پېژندنې یو شرط د ټولشموله او یا هم د ولس په خوښه د حکومت رامنځته کېدل دي.

د اتباعو د بشري حقونو او وجایبو مشخص کول د یو حکومت بنسټیز مسؤلیت دی او د نورو نړۍ هېوادونه او ان تېر جمهوري نظام هم دا کار د اساسي قانون له لارې کړی و او تمه ده چې اسلامي امارت هم د اساسي قانون د جوړېدو له لارې دا کار وکړي، خو متأسفانه اسلامي امارت په ۱۴۰۴ هـ.ل. کال کې هم ونه توانېده چې د اتباعو حقوق او وجایب د یو سند له لارې مشخص کړي او دا د دې لامل شوي چې

ولس په ویره کې پاتې شي، ځکه ولس نه پوهېږي چې کوم کار حق دی چې ترسره یې کړي او کوم جرم دی چې ترې ډډه وکړي. د وینا ازادي، په حکومت د محاسبې په موخه نقد، مذهبي ازادي، د ښځو د کار او تعلیم حق. دا هغه حقوق دي چې لا تراوسه گونگ دي او د یو بنسټیز حق په توگه په یو قانون کې نه دي تایید شوي او تر څو چې د ولس حقوق او وجایب مشخص نشي، تر هغې به ولس په ویره کې وي او هر مسلم حق به ورته غیرقانوني کړنه ښکاري.

بله ننگونه دا ده چې لا هم اسلامي امارت د سیمې او نړۍ هېوادونو له خوا په رسمي ډول په رسمیت نه دی پېژندل شوی او زموږ په نظر په دې برخه کې درې اساسي ستونزې موجودي دي: یو امنیتي اندېښنې دي چې تراوسه پورې د سیمې او نړۍ هېوادونه د اسلامي امارت له لوري د امنیتي ننگونو د رامنځته کېدو او یا هم له دغې خاورې څخه د دوی پر وړاندې د گټې اخیستلو په اړه ډاډه نه دي، دویم د ټولشموله حکومت یا د داسې پروسیجر نه رامنځته کول دي چې ولس په خپله خوښه حکومت وټاکي او درېیمه بنسټیزه ستونزه له غربي نړۍ او په ځانگړي ډول امریکا متحده ایالاتو سره فکري ستونزه ده دوی له اسلامي امارت څخه غواړي چې نظام بڼه به مو باید اسلامي نظام نه بلکې جمهوري او ډیموکراتیک وي.

## دویم- د نړۍ او سیمې له هېوادونو سره د اسلامي امارت تعامل او ښکېلتیا

د نړۍ او سیمې له هېوادونو سره د اسلامي امارت تعامل او ښکېلتیا له یو کال څخه بل کال ته مثبت بدلون کوي، البته په دې برخه کې له ځینو هېوادونو سره بیا دغه تعامل منفي خوا ته تللی دی چې پاکستان په کې په

ځانګړي ډول د يادولو وړ دی. په ۱۴۰۴ هـ.ل. کال کې د سيمې هېوادونو خپل تعامل او ښکېلتيا ته پراختيا ورکړې او ځينې هغه مسايل چې د اسلامي امارت داخلي نظام، بشري حقوقو او نورو موضوعاتو پورې تړلي دي هغې ته يې اهميت نه دی ورکړی، خو غربي نړۍ او په ځانګړي ډول متحده ايالاتو اوس هم د اسلامي امارت سره د اړيکو د رغېدو لپاره پر بشري حقوقو، ملي پخلاينې، د تروريزم پر وړاندې مبارزه، ټولشموله حکومت او ځينې نورې غوښتنو ټينګار کوي او له همدې امله يې په تعامل او ښکېلتيا کې ډېر پرمختګ نه دی رامنځته شوی.

## د روسيې له لوري د اسلامي امارت په رسميت پېژندل

په ۱۴۰۴ هـ.ل. کال کې په نړيوالو اړيکو کې يو ستر بدلون دا راغی چې روسيې اسلامي امارت په رسميت وپېژانده. روسيه د خپلو امنيتي انديښنو د لمنځه وړلو په موخه اړتيا لرله چې په افغانستان کې له داسې يوه حکومت سره خپلې اړيکې پياوړې کړي چې د ترهګرۍ په برخه کې اغېزمنه مبارزه وکړي، ترڅو د مرکزي اسيا سربېره دغه هېواد ته متوجه امنيتي ګواښونه مهار کړي. دوی درک کړې چې دغه موخه په افغانستان کې د اسلامی امارت په شتون کې ښه ترلاسه کېدای شي؛ په همدې اساس د اسلامي امارت په اړه د دې هېواد ولسمشر ــ ولادېمير پوتين ويلي چې ((طالبان د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې په برخه کې باوري متحدين دي)).[3] دا چې دغه موخه د اسلامي امارت د رسميت پېژندنې پرته په مطلوبه توګه نه ترلاسه کېږي؛ نو ځکه روسيې اړينه وګڼله چې

---

[3] Russia's Push to Legitimize the Taliban: Strategic Interests, Global Implications, and U.S. Countermeasures, publish date: April 1, 2025, available at: https://lansinginstitute.org/2025/04/01/russias-push-to-legitimize-the-taliban-strategic-interests-global-implications-and-u-s-countermeasures/?

اسلامي امارت باید په رسمیت وپېژندل شي. سربېره پر دې د نړیوالو سازمانونو د معلوماتو پر بنسټ په افغانستان کې د اسلامی امارت د بیا واکمنېدو وروسته د مخدره توکو کښت ۹۵ سلنه کم شوی دی.[4] په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه د روسیې اوږمهاله غوښتنه ده؛ ځکه چې له افغانستان څخه دې هېواد ته د مخدره توکو قاچاق د دې هېواد د ملي امنیت لپاره جدي اندېښنه ګڼل کېږي؛ نو دا چې اسلامي امارت په دې برخه کې بریالۍ مبارزه ترسره کړې او ترسره کوي یې؛ نو پر دې اساس دغه هېواد هڅېدلې چې په افغانستان کې اسلامي امارت د مشروع او قانوني حکومت په توګه په رسمیت وپېژني ترڅو په دې برخه کې خپله مبارزه لا هم په جدي توګه ترسره کړي. د اقتصاد، سیمه ییز اتصال او سوداګرۍ فکتورونه هم هغه موخې دي چې دغه هېواد یې په افغانستان کې تعقیبوي. افغانستان واردوونکی هېواد دی او له روسیې څخه غذایي مواد، تیل، ګاز او نور مواد واردوي، سربېره پر دې روسیه غواړي چې د افغانستان له لارې خپله سوداګرۍ د جنوبي اسیا هېوادونو ته هم پراخه کړي چې دغه موخې په افغانستان له یوه داسې حکومت سره چې ورسره رسمي اړیکې ونه لري په مطلوبه توګه نشي ترلاسه کېدای؛ نو ځکه روسیه اړه شوې چې اسلامي امارت په رسمیت وپېژني. سربېره پر دې روسیه هڅه کوي چې خپل سیمه ییز او نړیوال باور زیات او په دې برخه کې د لویدیځو هېوادونو مخه ډب کړي؛ نو افغانستان چې د شلو کالو وروسته د لویدیځو هېوادونو له تسلط خلاص شوی؛ نو روسیه هڅه کوي چې ورسره خپلې اړیکې

4 Afghanistan opium survey 2023, UNODC Research brief, page 3, published date: November 2023, available at: https://www.unodc.org/documents/crop-monitoring/Afghanistan/Afghanistan_opium_survey_2023.pdf

پیاوړې کړي او د اړیکو پیاوړتیا او د دوه اړخیزو همکاریو ترسره کولو د رسمیت پېژندنې پرته نشي ترسره کېدای؛ نو ځکه د دې هېواد د ډیپلوماسۍ دایرې پرېکړه کړې چې په افغانستان کې د اسلامي امارت په رسمیت وپېژني.

همدارنګه اسلامي امارت هم غوښتل چې روسیه یې په رسمیت وپېژني. واک ته له رسېدو سره سم اسلامي امارت اړتیا لرله چې خپل غږ په نړیوالو غونډو او سازمانونو کې د خپلو استازو پر اساس د نورو هېوادونو استازو ته ورسوي؛ دغه چاره پرته د رسمیت پېژندنې په مطلوبه توګه نه ترسره کېږي. د روسیې له لوري د رسمیت پېژندنې پر اساس اسلامي امارت کولای شي دغه موخه تر یوه بریده ترلاسه کړي. له بلې خوا روسیه په سیمه کې مهم هېواد دی او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا غړیتوب هم لري؛ نو د داسې یوه هیواد له لوري د اسلامي امارت په رسمیت پېژندل نور هېوادونو هم هڅوي او د اسلامي امارت د نړیوال مشروعیت ترلاسه کولو ته لاره هواروي او د اسلامي امارت سیاسي انزوا ته د پای ټکی ږدي. سربېره پر دې له دې هېواد سره د رسمیت پېژندې وروسته اقتصادي او سوداګریزو اړیکو پیاوړتیا پر وړاندې قانوني او حقوقي خنډونه پای ته رسېږي او د اسلامی امارت کولای شي چې د اقتصادي فشارونو د کمولو په موخه له دې هېواد سره اقتصادي او سوداګریزې اړیکې لا پراخه کړي. په کور دننه د اسلامي امارت پر وړاندې د خلکو باور زیاتېږي او ملاتړي یې ډېروي او بر عکس د اسلامي امارت پر وړاندې کورنۍ مخالفینو پر سیاسي او پوځي مبارزې منفي اغېزې کوي او د فعالیت پر وړاندې یې جدي خنډ ګرځي. د

روسیې فدراسیون له لوري د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنه د اسلامي امارت د بریالي بهرنۍ سیاست څرګندونه کوي.

## له پاکستان سره د اړیکو خرابېدل

د اسلامي امارت له بیاځلي واکمنۍ راهیسې د افغانستان او پاکستان ترمنځ په بېلابېلو وختونو کې نښتې شوي او پاکستان پر افغانستان بریدونه کړي دي. د بېلګې په ډول: د ۲۰۲۲ز. کال په اپریل میاشت کې پاکستاني جېټ الوتکو پر خوست او کونړ بمبارۍ وکړې، چې له امله یې ۴۷ کسان شهیدان او ۲۲ ټپیان شول چې اکثریت یې کوچنیان او ښځې وې. همدارنګه د ۲۰۲۴ز. کال د مارچ میاشتې پر ۱۸مه نېټه هم پاکستاني جېټ الوتکو په پکتیکا او خوست ولایتونو کې بمبارۍ وکړې چې له امله یې پنځه ښځې او درې کوچنیان شهیدان شول. د دې ترځنګ د ۲۰۲۵ز. کال د جنورۍ پر لسمه نېټه هم پاکستاني جېټ الوتکو د کونړ پر سرکانو ولسوالۍ بمبارۍ وکړې. پاکستان پر دې بریدونو هم بسنه ونکړه او د روان ۲۰۲۵ز. کال د اکتوبر میاشتې پر ۹مه نېټه یې پر کابل برید وکړ، چې په مقابل کې د افغانستان اسلامي امارت ته د بین المللي حقوقو په رڼا کې له ځان څخه د دفاع په موخه د ډیورنډ پر تولړه فرضي کرښه پر پاکستاني پوستو انتقامي بریدونه وکړل او د ذبیح الله مجاهد پر وینا په دې بریدونو کې یې ۵۸ پاکستاني پوځیان ووژل او نږدې ۲۹ یې ټپیان کړل. د دې ترځنګ وروستۍ پېښې چې د دواړو هېوادونو اړیکې یې صفر ته راښکته کړې هغه د پاکستاني جېټ الوتکو له لوري د ۲۰۲۶ز. کال د فبرورۍ میاشتې پر ۲۲مه نېټه پر ننګرهار، خوست او کندهار بریدونه وو. د پاکستان په دغه بریدونه کې ملکي

وګړي شهیدان شول چې یوازې د ننګرهار په بهسود کې د یوې کورنۍ ۱۷ نفره شهیدان شول. اسلامي امارت یې په ځواب کې د فبرورۍ پر ۲۶مه نېټه د جمعې په شپه انتقامي بریدونه پیل کړل چې په ځواب کې یې پاکستاني جیټ الوتکو پر کابل، ننګرهار، خوست او کندهار هوایي بریدونه وکړل او له دې سره دغه اړیکې د صفر کچې ته راښکته شوې.

د دغې جګړې رامنځته کېدو ډېر لاملونه درلودل چې درې یې ډېر مهم دي:

**۱- د پاکستان د طالبانو اسلامي تحریک فکتور:** د افغانستان او پاکستان ترمنځ د وروستۍ جګړې ستر لامل د پاکستان د طالبانو اسلامي تحریک پر سر د دواړو هېوادونو ترمنځ د اختلاف شتون دی. پاکستان دعوه کوي چې د افغانستان اسلامي امارت د پاکستاني طالبانو له اسلامي تحریک څخه ملاتړ کوي او دوی ته په افغانستان کې پټنځایونه برابروي. د افغانستان اسلامي امارت بیا دعوه کوي چې پاکستان د افغانستان پر خاوره بریدونه کوي او د ډیورنډ پر فرضي کرښه امنیتي ستونزې جوړوي. له دې دوه اړخیزو تورونو داسې معلومېږي چې د وروستۍ جګړې ستر لامل د پاکستاني طالبانو اسلامي تحریک یا TTP دی، ځکه کله چې پاکستان د افغانستان پر خاوره بریدونه کړي، نو پاکستان وایي چې دغه بریدونه یې د TTP پر مرکزونو کړي.[5]

پاکستان له اسلامي امارت څخه غوښتنه وکړه چې په افغانستان کې د پاکستاني طالبانو د اسلامي تحریک یا TTP په مقابل کې په افغانستان

[5] Ido Gadi Raz, "Against all Expectations: Afghanistan-Pakistan Relations after the American Withdrawal", Op. Cit. P. 14-15.

کې پراخ عملیات وکړي6 او که اسلامي امارت دا کار ونه کړي دوی اړ دي چې د افغانستان په خاوره کې عملیات وکړي. 7

د افغانستان اسلامي امارت د پاکستاني لوري دغه ټول تورونه ردوي، د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي دا د اسلامي امارت خلاف تبلیغات ګڼي او وایي چې په افغانستان کې هېڅ داسې ډلې نشته چې هغه د سیمې هېوادونو امنیت ته ګواښ پېښ کړي.8 د افغانستان اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد د پاکستان د تورونو په رد کې وایي: «پاکستان د دې پرځای چې خپل امنیت ټینګ کړي یو ځل بیا یې افغانستان تورن کړ. اسلامي امارت تاکید کوي چې دوی د دې ډول پېښو ملاتړ نه کوي، بلکې غندي یې، خو دا د اسلامي امارت مسؤلیت نه دی چې په پاکستان کې د بریدونو مخنیوی وکړي، بلکې پاکستان باید خپل امنیت پخپله ټینګ کړي.» 9 سره له دې چې اسلامي امارت په افغانستان کې د پاکستان د طالبانو اسلامي تحریک شتون رد کړی او په وار وار یې ویلي دي چې د افغانستان خاوره به د چا پر ضد نه کاریږي، خو پاکستان پر دې سربېره بیا هم د خپلو جېټ الوتکو پرمټ پر افغانستان بریدونه کوي اوووایي چې دا یې د تحریک طالبان پر مرکزونو کړي دي، نو یو ستر لامل د دې جګړې تحریک طالبان پاکستان دی.

**۲- د متحده ایالاتو فکتور:** د دې جګړې دویم لامل د متحده ایالاتو فکتور دی. متحده ایالاتو په دې وروستیو کې له اسلامي امارت څخه د

---

6 Arsalan Bilal, Pakistan and the Afghan Taliban: Friends Becoming Foes, THE DIPLOMAT, April 28, 2023, Access link: https://thediplomat.com/2023/04/pakistan-and-the-afghan-taliban-friends-becoming-foes/

7 Abid Hussain, Taliban's ties with Pakistan fraying amid mounting security concerns, Op. Cit.

8 Vito Morisco, "From Rebel Governance to Institutionalization? Prospects for the Taliban and Afghanistan", Op. Cit. P. 25.

9 Ibid.

بګرام اډې غوښتنه وکړه چې د اسلامي امارت له لوري رد شوه او د ټرمپ خبره دا وه چې که طالبان بګرام اډه رانکړي، نو ډېر بد څه به پېښ شي، د دې ترڅنګ ټرمپ هر وخت دا وايي چې له متحده ایالاتو څخه په افغانستان کې وسلې پاتې دي او هغه بېرته ترلاسه کوم. همدارنګه د پاکستان د لومړي وزیر او د پوځ مشر- عاصم منیر څو پرله پسې لیدنې له ټرمپ سره او د اړیکو نږدیوالی هم دې اړخ ته اشاره کوي چې پر کابل د پاکستان په برید کې د متحده ایالاتو فکټور هم له نظره نشي- غورځېدی، ځکه د پاکستان له ایجاد څخه تراوسه پورې دا لومړی ځل دی چې دغه هېواد کابل په نښه کوي، نو یو لامل دا هم کېدای شي چې متحده ایالات غواړي د پاکستان له لارې پر اسلامي امارت فشار راوړي تر څو د دوی ځینې غوښتنې او په ځانګړي ډول د بګرام اډې د ورکړې غوښتنه پرې ومنې او اسلامي امارت په دې وډار کړي چې که د دوی غوښتنې ونه منل شي، نو افغانستان به یو ځل بیا د ناامنۍ مرکز شي. دویمه مهمه موضوع دا ده چې کېدای شي پاکستان له متحده ایالاتو څخه دا پروژه اخیستې وي چې په افغانستان کې امریکایي وسلې له منځه درته وړم او په بدل کې ستاسې مالي او دفاعي همکاریو ته اړتیا ده. په تېره جګړه کې پاکستان په کابل کې هغه ځایونه په نښه کړل چې هلته د وسلو ډیپوګانۍ وې او د دې ترڅنګ یې بګرام هوایي اډه هم په نښه کړه. همدارنګه ځینې داسې اسناد هم خپاره شول چې د پاکستان پوځي رژیم متحده ایالاتو ته له افغانستان څخه د امریکایي وسلو د بېرته ترلاسه کولو یا له منځه وړلو پروپوزل لیږلی او دا چې اوس پاکستان بریدونه کوي، نو معلومیږي چې هغه پروپوزل منل شوی دی او دا هم د جګړې ستر لامل کېدای شي.

**۳- د هند فکتور:** په دې وروستیو کې د هند او اسلامي امارت اړیکې ښې شوي دي. هند په کابل کې خپل سفارت پرانیست، ګڼو وزیرانو او چارواکو هند ته سفرونه وکړل او دغه اړیکې ښې شوې. سره له دې چې له اسلامي امارت سره د هند اړیکې سمبولیک او نمایشي بڼه لري، خو له دې لارې بیا هم هند غواړي چې له متحده ایالاتو له وتلو وروسته په افغانستان کې خپل ځای وساتي او په دغه هیواد کې د چین او پاکستان د نفوذ مقابله وکړي، نو د هند او اسلامي امارت د اړیکو نږدیوالی هم د پاکستان او اسلامي امارت د جګړې لامل دی، ځکه د پاکستان د ستراتیژیک عمق پالیسۍ یوه برخه دا ده چې په افغانستان کې د هند د نفوذ مخه ونیسي.

## د هند سره د اړیکو نږدې کېدل

په ۱۴۰۴ هـ.ل.کال له سیاسي اړخه بل ستر بدلون دا راغی چې د هند او اسلامي امارت اړیکې نږدې شوې. د ۱۴۰۴ هـ.ل. کال د تلې میاشتې پر ۱۷مه نېټه هند ته د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي سفر وکړ. له دغه سفر وروسته هند په کابل کې خپل سفارت د تخنیکي همکارۍ له کچې بشپړ ډیپلوماتیکي کچې ته لوړ کړ چې دا د اسلامي امارت او هند د دوه اړخیزو اړیکو نوی او پرمختللی پړاو دی.
امیرخان متقي ته په هند کې تود هر کلی وویل شو. نوموړی د خپل سفر پرمهال، د رسمي لیدونو سربیره دیوبند دارالعلوم ته هم لاړ، چې له ۱۹۵۰ز.لسیزې راهیسې هیڅ افغان چارواکی په رسمي ډول دغه دارالعلوم ته نه دی ورغلی. دغه درالعلوم ته په سفر سره امیرخان متقي غوښتل هند ته دا پیغام ورکړي چې اسلامي امارت د دغه درالعلوم

ارزښت او اهمیت ته قایل دی او د دې درالعلوم له افکارو سره هم کوم ټکر نه لري، یعنې غوښتل یې چې اسلامي امارت د معتدل اسلامي فکر په توګه معرفي کړي او له سخت دریځي او د داعش په څېر تونددلارو ډلو سره خپل مخالفت څرګند کړي او همدا پیغام یې د سیمې او نړۍ هېوادونو ته هم ورکړ. دیوبند دارالعلوم له اسلامي امارت سره د هند د اړیکو د رغېدو لپاره یو مهم فکتور دی، ځکه په هند کې یو سیکولر نظام دی او دغه هېواد د اسلامي امارت د نظام مذهبي اړخ ښه درک کړی او له همدې امله غواړي چې د دغه ډول مذهبي نظام سره د یو مذهبي ادرس له لارې د اړیکو د ټینګولو پر بنسټ له یوې خوا په دغو اړیکو کې د ډاډ فضاء رامنځته کړي او له بلې خوا اسلامي امارت ته دا پیغام ورکړي چې هند د اسلامي امارت د مذهبي والي مخینې او یا اوسني اسلامي نظام سره کومه ستونزه نه لري. هند ته د امیرخان متقي سفر د اسلامي امارت او هند په اړیکو کې ستر بدلون راوست، چې له امله یې د هند د څار او انتظار پالیسي پای ته ورسېده او دغه پالیسۍ کې لاندې بدلونونه راغلل:

الف- هند په رسمي ډول په کابل کې سفارت پرانېست او له دې سره د دواړو هېوادونو اړیکې سفارتي کچې ته لوړې شوې، له دې معلومېږي چې د هند څار او انتظار پای ته رسېدلی او د اسلامي امارت له پالیسیو او کړنو ډاډه شوي دي او له همدې امله یې له اسلامي امارت سره په سفارتي کچه تعامل پیل کړ.

ب- هند د اسلامي امارت په اړه له څو اړخیزې ډیپلوماسۍ څخه ګټه اخیسته، چې دې ډول ډیپلوماسۍ ته یې هم د پای ټکی کېښود او په دې

برخــه کــې هــم بــدلون راغــی، ځکــه چــې هنــد پــه یــوازې ځــان د ســفارتي اړیکــو د پرانېستو پرېکړه وکړه.

ج- هنــد د اســلامي امــارت پــه مقابــل کــې یــوازې د بشرــي مرســتو ډيپلومــاسي پــرمخ وړلــه، يعنــې داســې يــې ښــوده چــې تــر هغــې چــې د اســلامي امــارت پــه اړه ډاډ ترلاســه کــوي تــر هغــې بــه ورسره يــوازې بشرــي مرســتې کــوي او پــه کابــل کــې بــه د هنــد پــه ســفارت کــې يــو تخنيکــي ټــيم د دغــو مرســتو پــه توزيــع کــې همکــاري کــوي، يعنــې د اســلامي امــارت او هنــد اړیکــې یــوازې پــه بشرــي مرســتو ولاړې وې، چــې پــه دې برخــه کــې هــم بــدلون راغــی او هنــد پــه کابــل کــې د ســفارت پــه پرانېســتو سره هــر ډول ســياسي، اقتصــادي، فرهنگــي او بشري اړيکې رامنځته او دغه اړيکې يوازې د بشري مرستو څخه راووتې.

د اميرخــان متقــي لــه ســفر وروســته د اســلامي امــارت او هنــد اړیکــې لا تــودې شــوې، د اســلامي امــارت پــه اړه د هنــد پاليســې بدلــه شــوه او لــه همــدې املــه د ۲۰۲۵ز.کــال د نــومبر پــر ۱۹مــه نېټــه د اســلامي امــارت د ســوداګرۍ او صــنايعو وزيــر نورالــدين عزيــزي هــم هنــد تــه پــه اوه ورځنــي ســفر لاړ. پــه دغــه ســفر کــې نومــوړي د هنــد د ســوداګرۍ او صــنعت لــه وزيــر شري پيــوش ګويــال سره وليــدل، پــه دغــه کتنــه کــې دواړو لوريــو د ســوداګرۍ پــر اســانتيا، د يــو او بــل بــازار تــه پــر لاسرسي، ظرفيــت لــوړونې او ســيمه ييــز اتصــال خــبرې وکــړې. دواړو لوريــو د کابــل-ډهــلي او کابــل-امرتسرــ هــوايي دهليــز پــر پرانېســتو هــم هــوکړه وکــړه. د دې ترڅنــګ د ســوداګرۍ، صــنعت او پــانګونې ګــډو کــاري ډلــو پــر بيــا فعاليــدو هــم هــوکړه وشــوه او د کــانونو او نــورو لــوړ ارزښــت لرونکــو ســکټورونو پــه برخــه کــې د ګــډو همکــاريو د فرصــتونو د پلټلــو پــر سر هــم سره ســلا شــول. د دې ترڅنــګ پرېکــړه وشــوه چــې افغانســتان او هنــد بــه پــه خپلــو ســفارتونو کــې ســوداګريز اســتازي (اتشــې)

وګـــماري او د ســـوداګرۍ او صـــنعت ګـــډې خـــونې ( Joint Chamber of Commerce and Industry) بـــه رامنځتـــه کـــړي. لنـــډه دا چـــې لـــه ۲۰۲۱ز. کـــال وروســـته د اســـلامي امـــارت او هنـــد اړیکـــې پـــر دوه پړاوونـــو ویشـــلی شـــو، پـــه لـــومړي پـــړاو کـــې چـــې لـــه ۲۰۲۱ز. کـــال څخـــه تـــر ۲۰۲۵ز. کـــال نیمایـــي پـــورې یـــې دوام وکـــړ، د دواړو هېوادونـــو اړیکـــې نـــږدې نـــه وې او هنـــد غوښـــتل د اســـلامي امـــارت پـــه اړه د ډاډ لـــه ترلاســـه کولـــو وروســـته دغـــه اړیکـــې پـــه لـــوړه کچـــه رامنځتـــه کـــړي، خـــو پـــه ۲۰۲۵ز. کـــال کـــې د اســـلامي امـــارت او پاکســـتان د مخـــامخ جګـــړې وروســـته، هنـــد دا درک کـــړه چـــې پـــر اســـلامي امـــارت بـــاور کېـــدای شي او بایـــد ورسره اړیکـــې نـــږدې کـــړای شي او هماغـــه و چـــې پـــه ۲۰۲۵ز.کـــال د اکتـــوبر پـــه میاشـــت کـــې امیرخـــان متقـــي هنـــد تـــه ســـفر وکـــړ او بیـــا هنـــد پـــه کابـــل کـــې خپـــل ســـفارت پرانیســـت او د دواړو هېوادونـــو اړیکې ورغېدې.

## د چین سره اړیکې لا هم ښې دي

پـــه ۱۴۰۴ هــــ.ل. کـــال هـــم اســـلامي امـــارت پـــه ســـیمه کـــې د چـــین پـــه څېـــر ســـتر قـــدرت سره خپلـــو ښـــو اړیکـــو او ښـــکېلتیا تـــه دوام ورکـــړ. چـــین پـــه تېـــر شـــل کلـــن جمهوریـــت کـــې د متحـــده ایـــالاتو د شـــتون لـــه املـــه لـــه افغانســـتان څخـــه لـــرې پـــاتې شـــوی و او اوس چـــې متحـــده ایـــالات پـــه افغانســـتان کـــې نشـــته، نـــو لـــه همـــدې املـــه غـــواړي چـــې لـــه اســـلامي امـــارت سره نـــږدې اړیکـــې ولـــري او دغـــه هېـــواد یـــو ځـــل بیـــا د متحـــده ایـــالاتو غېـــږې تـــه پرېنـــږدي. چـــین غـــواړي چـــې لـــه افغانســـتان څخـــه د ملاتـــړ لـــه لارې تـــول هغـــه امنیتـــي ګواښـــونه لـــه منځـــه یـــوسي چـــې د دوی هېوادونـــو تـــه متـــوجې دي او لـــه بـــل لـــوري پـــه افغانســـتان کـــې د پـــانګونې لـــه لارې اقتصـــادي مـــوخې ترلاســـه کـــړي. چـــین پـــه رســـمي

ډول افغانستان ته خپل سفیر معرفي کړی او د اسلامي امارت سفیر یې هم په رسمي ډول منلی دی چې له امله یې ډیپلوماتیکې اړیکې پیاوړې شوي دي. له اسلامي امارت سره د تعامل او ښکېلتیا په مسئله کې، چین له لویدیځو هېوادونو سره یوه مهمه ګډه اندېښنه لري، هغه داده چې افغانستان باید د نړیوالو ترهګریزو شبکو لپاره خوندي ځای په توګه بدل نشي. دغه هېوادونه د لوېدیځو هېوادونو سره د بنسټیزو بشري حقونو مسلې له مطرح کېدو سره همغږي نه دي؛ بلکې د دې دواړو هېوادونو لپاره د سیمې ثبات او امنیت تر ټولو مهمه موضوع ده. له افغانستان څخه د امریکا له وتلو سره سم، چین ته دا فرصت په لاس ورغی چې په افغانستان کې شتون ولري او له اسلامي امارت سره د تعامل له لارې وضعیت د خپلو ګټو په محور بدل کړي. پر همدې اساس دوی له افغانستانه خپل ډیپلوماتیک کارکوونکي نه دي ایستلي او په کابل کې یې خپل سفارت فعاله ساتلی دی. سربېره پر دې، د افغانستان وضعیت چین ته دا زمینه برابره کړه چې په افغانستان کې د امریکا د شل کلنې جګړې ناکامي او په افغانستان کې د امریکا له لوري د ملت جوړونې ناکامي برجسته او روښانه کړي. دا چاره د سیمې پر سیاستونو د دوی نفوذ زیاتوي او د دوی هغه نړیوال ډیپلوماتیک دریځ توجیه کوي چې امریکا باید خپل ارزښتونه د نورو ټولنو په خلکو او دودونو تحمیل نه کړي.

چین په افغانستان کې اوږدمهاله ستراتیژیکي ګټې، په ځانګړي ډول د کان کیندنې په برخه کې د پانګونې او د یو کمربند، یوې لار (Belt and Road Initiative) نوښت د بریالي پلي کولو په برخه کې لري. دغه هېواد له روسیې سره په نږدې همغږۍ، له اسلامي امارت سره مرسته کوي، ترڅو راتلونکی ستراتیژیک چاپیریال په افغانستان کې د ثبات

راوستلو په لور وخرخوي، څکه چې په افغانستان کې ثبات د چین د سیمه ییز اتصال لپاره مهم شرط ګڼل کېږي. د طالبانو له رهبرۍ سره د روسیې، چین او پاکستان د پلاوو غونډې او ملاقاتونه د دې هېوادونو ستراتېژیکې محاسبې په ګوته کوي.

## روابط با کشورهای آسیای مرکزی و ایران

در سال ۱۴۰۴ هجری شمسی، روابط سیاسی امارت اسلامی با کشورهای آسیای مرکزی شاهد تحولات بی‌سابقه و چشمگیری بود که نشان‌دهنده تغییر نگرش منطقه‌ای نسبت به امارت اسلامی و گذار از انزوا به تعامل عملی محسوب می‌شود. در حوزه کشورهای آسیای مرکزی، سال ۱۴۰۴ سال جهش در مناسبات دیپلماتیک بود. قزاقستان با فرستادن سریک جومانگارین، معاون نخست‌وزیر خود، به کابل در ثور ۱۴۰۴ گامی بلند در راستای گسترش روابط دوجانبه برداشت؛ این سفر بلندپایه که به هدف توسعه همکاری‌های تجاری و شرکت در نمایشگاه اقتصادی انجام شد، با استقبال مقامات امارت اسلامی مواجه گردید.[10] ازبکستان نیز به عنوان یکی از پیشگامان تعامل عملی، پس از چهار سال گذرگاه مرزی پل ترمذ-حیرتان را به‌طور کامل بر روی عبور و مرور افراد و موترهای باربری گشود که این اقدام تجارت دوجانبه را به شکل قابل توجهی تسهیل کرد.[11] به تعقیب امضا توافقنامه استراتژیک

---

[10]. معاون نخست‌وزیر قزاقستان وارد کابل شد. خبرگزاری ایل ۱۴۰۴/۲/۱ قابل دسترسی:
https://elmedia.news/%D9%85%D8%B9%D8%A7%D9%88%D9%86-%D9%86%D8%AE%D8%B3%D8%AA%D9%88%D8%B2%DB%8C%D8%B1-%D9%82%D8%B2%D8%A7%D9%82%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%D9%88%D8%A7%D8%B1%D8%AF-/%DA%A9%D8%A7%D8%A8%D9%84-%D8%B4%D8%AF

[11]. پس از چهارسال؛ مرز ازبکستان با افغانستان بروی مسافران بازگشایی شد. رادیو آزادی ۱۴۰۴/۹/۱۲ قابل دسترسی:
https://da.azadiradio.com/a/33611585.html

میـــان ازبکســـتان و امـــارت اســـلامی کـــه در ســـال گذشـــته صـــورت گرفتـــه بـــود، نشســـــت مهـــم همکاری‌هــــای راهـــبردی ازبکســــتان و افغانســــتان در کابــــل برگـــزار شـــد.[12] روابـــط بـــا ترکمنســـتان نیـــز بـــر پایـــه همکاری‌هـــای چندســـاله گـــرم و دوســـتانه ادامـــه یافـــت و ســـفر والـــی هـــرات بـــه همـــراه هیئـــت تجـــاری بـــه عشـــق‌آباد در ثـــور ۱۴۰۴، بـــر گســـترش همکاری‌هـــای تجـــارتی، تســـریع پـــروژه تـــاپی و اســـتفاده از ظرفیت‌هـــای مشـــترک در بخش‌هـــای انـــرژی و ترانزیـــت متمرکـــز بـــود.[13] امـــا مهم‌تـــرین تحـــول در روابـــط بـــا کشـــورهای آســـیای مرکـــزی، برقـــراری تماس‌هـــای دیپلماتیـــک میـــان تاجیکســـتان بـــه عنـــوان منتقـــد سرســـخت طالبـــان و افغانســـتان بـــود. در ایـــن ســـال، یـــک هیئـــت بلندپایـــه تاجیکســـتانی متشـــــکل از مقام‌هـــــای وزارت امـــــور خارجـــــه، ادارات امنیتـــــی و برخـــــی مســـئولان دیگـــر آن کشـــور وارد کابـــل شـــد و بـــا مولـــوی امیرخـــان متقـــی، وزیـــر امـــور خارجـــه طالبـــان، در خصـــوص تقویـــت و گســـترش مناســـبات سیاســـی، اقتصـــادی و امنیتـــی گفتگـــو کـــرد.[14] در مقابـــل، محمـــد یوســـف وفـــا، والـــی بلـــخ، بـــه عنـــوان یـــک مقـــام بلندپایـــه محلـــی بـــرای گفتگـــو بـــا مقامـــات تاجیکســـتان بـــه آن کشـــور ســـفر کـــرد[15] کـــه ایـــن رفـــت و برگشـــت‌های دیپلماتیـــک نشان‌دهنده آب شدن تدریجی یخ روابط میان دو همسایه است.

---

